د رحمان بابا
او حمید مومند
په آثارو کې

# متلونه او اصطلاحات

څېړنوال مجاور احمد مومند

د رحمان بابا او حمید مومند په آثارو کې متلونه او اصطلاحات

۱۳۹۹ هـ.ش

# Proverbs & Idioms

## in the Literature of Rahman Baba & Hamid Momand




By: Professor Mujawar Ahmad Momand

2021

ISBN 978-9936-661-15-8

9 789936 661158

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

د فولکلور او شفاهي ادبیاتو څانګه

د رحمان بابا او حمید مومند په آثارو کې

# متلونه او اصطلاحات

څېړنوال مجاور احمد مومند

۱۳۹۹ هـ.ش

## د کتاب ځانګړنې

**د کتاب نوم:** د رحمان بابا او حمید مومند په اشعارو کې متلونه او اصطلاحات

**لیکوال:** څېړنوال مجاوراحمد مومند

**لارښود استاد:** څېړنپوه علي محمد منګل

**اډیټور:** څېړنپوه نصرالله ناصر

**مهتمم:** څېړنوال دکتور عبدالاحدمنګل

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د لیکلو کال:** ۱۳۹۲هـ.ش

**د چاپ کال:** ۱۳۹۹هـ.ش

**د چاپ شمېر:** ۵۰۰ ټوکه

**د چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل – افغانستان

**ISBN: ۹۷۸-۹۹۳٦-٦٦۱-۱۵-۸**

د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي.

بسم الله الرحمن الرحیم

# فهرست

د ځانګې نظر / څېړنوال دکتور عبدالاحدمنګل ........... أ
د ایډیټور نظر / څېړنپوه نصرالله ناصر ........... د
د لارښود استاد نظر / څېړنپوه علي محمد منګل ........... ط
سریزه ........... ۱

**لومړی څپرکی**

**د موضوع شالید** ........... ۷

**دویم څپرکی**

**متل او اصطلاح** ........... ۲۳
لومړی- متل څه ته وایي؟ ........... ۲۳
د متل لغوي او اصطلاحي معنا ........... ۳۳
متلونه د شفاهي ادبیاتو د غوره ډول (ژانر) په توګه ........... ٤۳
د متلونو ډولونه ........... ٤٦
۱_ منظوم متلونه ........... ٤٦
۲_ منثور متلونه ........... ٤۷
۳_ منظوم ډوله او مسجع متلونه ........... ٤۷
۴_ تلمیحي متلونه ........... ٤۸
دوهم – اصطلاح څه ته وایي؟ ........... ۵۰
د متلونو او اصطلاحاتو توپیر او نږدېوالی ........... ۵۹

**درېیم څپرکی**

**د رحمان بابا لنډه پېژندنه او د شعر سبک** ........... ٦۳
د رحمان بابا د شعر سبک ........... ٦۹
د ده د سبک مشهور پیروان ........... ۷۲

د رحمان بابا په دېوان کې متلونه او د هغو د استعمال ځایونه .......۷۵
د رحمان بابا په دېوان کې د اصطلاحاتو څرک.................۱۰۶


## څلورم څپرکی


**د حمید مومند لنډه پېژندنه او د شعر سبک** .......۱۳۳
د حمید مومند سبک ................................۱۴۰
د حمید د سبک ځانګړتیاوې ..........................۱۴۱
د حمید د سبک پیروان..................................۱۴٤
د حمید مومند په آثارو کې د متلونو څرک.......................۱٤٦
۱_ د حمید مومند په دېوان کې متلونه.........................۱٤٦
۲_ د حمید په ((شاه و ګدا)) کې متلونه .........................۱۶۹
۳_ د حمید په ((نیرنګ عشق)) کې متلونه .........................۱۷۵
۴_ د حمید په ((شرعة الاسلام)) کې متلونه .........................۱۸۳
د حمید مومند په آثارو کې د اصطلاحاتو څرک .........................۱۹۰
۱_ د حمید مومند په ((دېوان)) کې اصطلاحات.........................۱۹۰
۲_ د حمید مومند په ((نیرنګ عشق)) کې اصطلاحات ...........۲۰۲
۳_ د حمید مومند په ((شاه او ګدا)) کې اصطلاحات ............۲۰۹
٤_ د حمید مومند په ((شرعة الاسلام)) کې اصطلاحات ..........۲۱۷


## پنځم څپرکی


**په ټولنه کې د متلونو ارزښت یا د متل ټولنیز ارزښتونه**...۲۲۳
د متل تاریخي ارزښتونه....................................۲۳۷
د متل ژبني ارزښتونه....................................۲٤۹
په ژبني لحاظ د متلونو لهجوي خوا.........................۲۵۱
په متلونو کې په ژبنۍ توګه توارد او بدلون .........................۲۵۱

**شپږم څپرکی**

**په شعر ونو کې د متلونو د استعمال اړتیا** ......... ۲۵٤
**پایله** ........................................................... ۲۷۹
**وړاندیزونه** ................................................... ۲۸۲
**مأخذونه** ....................................................... ۲۸٤

# د ځانګې نظر

فولکلور او په ځانګړې توګه ولسي ادبیات  د یوې ټولنې د فرهنګ هغه غیر ملموس توکي دي چې ساتل، را ټولول، خوندي کول او څېړل یې د فرهنګي ارزښتونو د غنامندۍ په برخه کې ستر رسالت تر سره کوي، ځکه چې د معاصرو پرمختګونو او ټکنالوژۍ له کبله په ټوله کې فولکلور او په ځانګړې توګه پښتني فولکلور او شفاهي ادبیات ورځ په ورځ د محوه کېدو په حال کې دي، پر همدې اساس د فولکلور څېړنې د تیورۍ د ټاکلو مېتودونو په رڼا کې د پښتني فولکلور د توکو په نښه کول، ثبتول، څېړل، حفظ او ژغورلو جدي اړتیا لیدل کېږي.

فولکلور او ولسي ادبیاتو د تاریخ، ټولنپوهنې، ارواپوهنې، اتنوګرافي، اتمولوژي او د علومو د نورو څانګو لپاره لومړۍ لاس مواد او منابع خوندي کوي، د ژبڅېړنې او ژبپوهنې لپاره، د اصیلو لغتونو د کارونې امکان برابروي.

فولکلور د یوه فرهنګي اصل په توګه د انسان پیدایښت سره سم پیدا شوی او د ټولنیز ژوند په بهیر کې بډای شوی دی، ستره اړتیا یې دا ده چې د فولکلور په لیک او راټولولو سره موږ شېبې او زمانې خوندي کوو او د انساني ذهنیت د تفسیر بېلابېلې خواوې د ژوند کړه وړه فکري او ذهني پرمختګ راسپړو، لکه: د یوې ټولنې د نورو علومو، تاریخي پېښو، طبیعي پېښو، د تېر ژوند په افسانو کې د نوي ژوند څېره، هنري او پوهنیز ارزښتونه، ادب، اخلاق، عقیدې، عنعنې او دودونه، د خلکو

ژبه، لهجې او د کارونې وسایل او داسې نور را ښایي، د بشري ژوند د رازونو کلي فولکلور او ولسي پوهه ده، له دې امله د ولسي پانګې (فولکلور) خوندي کول د هر ملت لپاره ضروري دي.

ولسي ادب لفظي هنر دی چې تاریخ یې د بشري ژبې د رامینځته کیدو پیلامې ته رسېږي، حال دا چې د نړۍ د لرغوني لیکلي ادب تاریخ له دېرشو څلوېښتو پېړیو څخه تېرې نه کوي، د لیک د پیدایښت نه د مخه یواځې فولکلور و، چې د بشري ټولنو ادبي تنده یې ماتوله، په ځانګړې توګه ولسي ادب د خبر رسولو د یوې وسیلې په توګه رامینځته شوی، هغه مهال چې اخبار او راډیو نه وه همدغو ولسي شعرونو او نثرونو د ولس د خبرونې او پوهونې دنده پرمخبیوله، ولسي ادب د ولس په ژبه، د ولس غوښتنه، هیله، احساس او ذوق څرګندوي، په واقعیت کې ولسي روایات او ارزښتونه پالي.

د پښتو شفاهي ادب ډېر شکلي او موضوعي اصناف لري، چې ځینې یې لکه: متلونه، اصطلاحات او نور د لیکلي یا تحریري ادب په ځینو آثارو کې پیداکېږي، د څېړنې د مېتودونو او لارو چارو سپارښتنه په دې اړه داده چې د ولسي ادبیاتو ځینې عام ژانرونه دې د بېلابېلو ادبي او تاریخي دورو په آثارو کې و څېړل شي، تر څو یې د کارونې موخه د ټولنیز ژوند د غوښتنو په پوښتنو کې حل شي، دغه اثر چې ستاسو په لاس کې دی، لیکوال د دې علمي- څېړنیز اثر؛ د اړونده موضوعاتو فرضیه د تشریحي او تحلیلي میتود په رڼاکې پل په پل ځارلې، څېړلې، تحلیل او بشپړه کړې ده، په ځینو مواردو کې یې له انتقادي میتود څخه هم کار اخیستی دی.

د دې علمي اثر د څېړنې ارزښت په دې کې دی چې، د شاعرانو له دیوانونو او د شعرونو له ټولګو څخه یې متلونه او اصطلاحات را ایستلي او د هغو اصلي بڼه یې پیدا او تحلیل کړې ده. د څېړنې د فرضیې له حل څخه یې معلومېږي چې لیکوال تر ډېره بریده د تحقیق په بهیر کې پر ستونزوه بریالی شوی دی.

په دې څېړنه کې د رحمان بابا او حمید مومند په آثارو کې متلونه او اصطلاحات، په ښه شوي او څېړل شوي او په لړ کې یې د نورو کلاسیکو او معاصرو شاعرانو له شعرونو هم بېلګې وړاندې شوي دي، دا اثر په خپل ډول کې ځانګړی دی، په خپله برخه کې د څېړونکو، لیکوالو او زدکړیالانو لپاره غوره منبع ده. د یادولو وړ ده چې د دې کتاب له عمومي او فرعي عناوینو څخه د لنډون په موخه د (پښتو، یې او عبدال) کلمې حذف شوي دي.

مینه او درنښت

څېړنوال دکتور عبدالاحدمنګل

# د ایډیټور نظر

رحمان بابا او حمید مومند، د پښتو ادب د کلاسیکې دورې هغه نومیالي شاعران دي چې زما په اند یې اوس هم ځای تش دی. حمید مومند د پښتو ژبې هغه پیژندل شوی او اوځار شاعر دی چې د هندي ادبي سبک پیرو، په نازکخیالۍ کې طاق او بې جوړې دی. دا هم باید هېره نه کړو چې ده د هندي سبک پیروي کړې خو هغه ته یې پښتني رنګ ورکړی او د نازکخیالۍ داسې جامې یې ور اغوستې چې بالاخره دی د یوه ځانګړي سبک څښتن شوی، نورو یې هم پیروي کړې او په دې توګه یې د ادبي مکتب بڼه غوره کړې ده، که رښتیا ووایم زما په اند لاتر اوسه هم په نازکخیالۍ کې د ده ساری نه دی لیدل شوی.

عبدالرحمن مومند چې په رحمان بابامشهور دی، هم د پښتو هغه وتلی او محبوب شاعر دی چې د خپلو تصوفي او غرفاني اشعارو په برکت یې نړیوال شهرت موندلی دی. په پښتنو کې به داسې کورنۍ ډېرې کمې وي چې د رحمابابا د دیوان قلمي یا چاپي نسخه ورسره نه وي. رحمان باباهم د خپل ځانګړي سبک څښتن و، دغه سبک ځینو د روان او ساده سبک په نوم هم نومولی دی، کله چې یې پیروان زیات شوي نو د مکتب پوړ ته رسېدلی او اوس د رحمان بابا د ادبي مکتب په نوم یادېږي. د رحمان بابا شعرونه که ظاهراً د بڼې له مخې ساده ښکاري خو منځپانګه یې خورا غني ده، د ده کلام تر ډېره بریده عرفاني او صوفیانه بڼه لري. دی تل د پند او عبرت خبرې کوي، البته داهم د

هېرولو نه ده چې د مضمون له مخې د ده په دېوان کې د نورو رنګارنګ موضوعګانو هم څه کمی نه احساسېږي، نوموړی دغه موضوعګانې په داسې الفاظو بیانوي چې د هر چا ورته هوس راځي او خوښېږي یې.

لنډه داچې زموږ دغه دواړه پیاوړي شاعران نه یوازې په خپل وخت کې منلي وو بلکې اوس هم منلي او ښاغلي دي، د آثارو غورچاڼونه یې په نورو ژبو هم ژباړل شوي دي.

رحمان بابا او حمید مومند دواړه لوستي او له خپل اګاه او باخبره شاعران وو، دوی د خپل مهال د دویزکلتور ډېر په زړه پورې توکي په خپلو اشعارو کې منعکس کړي او د هغه وخت د حالاتو یادونو یې هم په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه دیوانونو ته لاره موندلې ده. کیدای شي دهغه مهال ځینې توکي هېر او ځینې به یې لا په خپل قوت پاتې وي. همدارنګه د دواړو په شعرونو کې پر نورو ښېګڼو سر بېره د ادبي فنونو بېلابېل ډولونه تر سترګو کېږي.

تر ټولو غوره خولا داده چې رحمان بابا او حمید مومند په خپلو دیوانونو کې هغه قیمتي او ارزښتناکې مرغلرې (متلونه) چې همدانن یې هم موږ په ورځنیو چارو او لیکنو کې د خپلو خبرو د استناد او پخلي په منظور کاروو هم ځای کړی دي او د دواړو دیوانو نه ترې مالامال دي، همدارنګه د د دوی په دېوانونو کې د ولسي اصطلاحاتو او نومونو هم څه کمی نه احساسېږي.

په هر حال د دې لپاره چې د دغو دواړو ښاغلو په دیوانونو کې د راغلو متلونو(په هره بڼه چې وي، مدعامثل؛ ارساالمثل) او اصطلاحاتو د کارونې ژوره پته ولګېږي او استفاده ترې عامه شي، د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت همدغې موخې ته د رسېدو په

خاطر ښاغلي څېړنوال مجاور احمد مومند ته «د حمید مومند او رحمان بابا په آثارو کې پښتو متلونه او اصطلاحات» تر سرلیک لاندې علمي-څېړنیزه پروژه ورکړه. نوموړي یاده موضوع پرسریزې سربېره په شپږو څپرکو کې بشپړه کړې ده چې دلته د اثر جوړښت ته لنډه نغوته کوم:

لیکوال په سریزه کې د موضوع پراهمیت، مبرمیت او د کار په څېړندود خبرې کړي او په دې ترڅ کې یې خپل اثر هم په لنډه توګه معرفي کړی دی.

لومړی څپرکی د موضوع شالید ته ځانګړی شوی دی، په دې څپرکي کې که لیکوال له یوې خوا د موضوع لنډه تاریخچه بیان کړې او تر دې اثر د مخه تر سره شوې چارې یې د یادونې ترڅنګ ارزولي هم دي نو له بلې خوایې داهم په ډاګه کړې ده چې تر دې دمخه کوم کارونه شوي، هغه په خوره وره توګه د بېلابېلو لیکوالو له خوا تر سره او د ځانګړي اثر بڼه نه لري.

د دې اثر په دوهم څپرکي کې د متل او اصطلاح پر لغوي او اصطلاحي معناوو رڼا اچول شوې او د هغو د استعمال د مواردو په ښودلو سربېره یې د دواړو اړیکې او توپیرونه هم په ګوته کړي دي.

په درېیم څپرکي کې د عبدالحمیدمومند پر ژوندلیک سربېره د هغه په ځانګړي سبک هم ګټورې خبرې شوي، ورپسې یې د دیوان په ګډون د هغه آثار معرفي کړي دي، لومړی یې په کې متلونه او ورپسې یې اصطلاحات د اشعارو په بېلګو کې ښودلي او لازمې تبصرې یې هم ورباندې کړي دي.

د دې اثر څلورم څپرکي کې د رحمان بابا پېژندنې ته ځانګړی شوی دی، چې له دې وروسته یې د رحمان بابا دیوان معرفي کړی، په

هغه کې یې د متلونو او اصطلاحاتو لټه کړې، هر متل او اصطلاح یې تشریح کړې او له دیوان څخه یې اړوندبیتونه هم د بېلګو په توګه راوړي دي.

په پنځم څپرکي کې د متلونو په ټولنیز ارزښت مفصلې خبرې شوي او په ترڅ کې یې په ترتیب سره د متل په تاریخي او ژبني ارزښت بحث کړی او د متلونو د لهجوي اړخ پرڅېړنه سربېره یې په متلونو کې د توارد مسأله هم څېړلې ده.

په شپږم څپرکي کې په دې باندې هر اړخیز بحث شوی چې په شعرونو کې د متلونو د کارولو اړتیا څه ده؟ لیکوال دغه برخه په غور سره څېړلې، له بېلابېلو سرچینو څخه په استفاده سر بېره یې خپل نظر هم ورسره ملګری کړی دی.

دغه اثر په پایلې وړاندیزونو او د مأخذونو په فهرست پای ته رسیدلی دی.

په لنډیز سره ویلی شم چې د دې اثر لیکوال خپله علمي-څېړنیز اثر پروژه د تشریحي او تحلیلیي میتود په رڼاکې بشپړه کړې ده خو کله کله یې له انتقادي میتود څخه هم کار اخیستی دی.

- لیکوال په موضوعګانو باندې تش بحث نه دی کړی بلکې د څېړنې په بهیر کې یې هغه تحلیل کړي هم دي.

- زما په اند د شاعرانو له دیوانونو او د شعرونو له ټولګو څخه د متلونو او اصطلاحاتو را ایستل او د هغو اصلي بڼه پیداکول او تحلیل ستونزمن کار دی، خو لیکوال تر ډېره بریده پر دې ستونزوه بریالی شوی دی.

د څېړنوال مجاور احمد مومند یاد اثر د ژبو او ادبیاتو د مرکز د ۱۱/ ۷/ ۱۳۹۸ نېټې د ٦٣٨١٧٠٥ ګڼه لیک په ملتیا ماته د ایډیټ لپاره

را سپارل شوی دی چې ما له خپل توان سره سم نه یواځې د دې اثر ژبنی ایډیټ تر سره کړی بلکې د منځپانګې له مخې مې هم په کې لازمې سمونې کړي، د ځینو متلونو او صطلاحاتو تشریحات مې غني کړي او زاید عبارتونه مې ترې حذف کړي دي.

همدارنګه مې د رحمان بابا او حمید مومند د هغو بیتونو مخونه هم ښوولي چې له لیکواله پاتې وو، په لمنلیکونو پایله، وړاندیزونو او د کتاب د پای په مأخذنو کې هم اصلاحات او سمونې تر سره شوي دي.

په پای کې په لنډه توګه ویلی شم چې د ښاغلي مومند اثر چاپ ته چمتو او د چاپ وړ دی.

په درنښت

څېړنپوه نصرالله ناصر

د علومو اکاډمي د بشري علومو مرستیال

## د لاربنود استاد نظر

چـــې کشـــور د افغـــانـــانـــو معطر کا
د هر بيت مسرۍ مې زلفې د خوبان کړې

(رحمان بابا)

د حميد د ساده شـــعر کمـــال گـــوره
چـــــې شمـــلـــه شـــه د تمام سرېښي

(حميد مومند)

د علم په نړيکمرغه لويه دنيا کې، دا هم څرګنده ده چې ټولو عالمانو د قلم په برکت او چلولو سره، د بشر د خدمت لپاره ډېر فرهنګي او کلتوري روښانه هنرونه او انځورونه کښلي دي چې په نتيجه کې له تاريخ پوهانو څخه لوی، لوی تاريخونه، رياضي پوهانو څخه د رياضي کتابونه، حديث پوهانو څخه لوړ حديثونه او تفسيرونه، له اديبانو څخه ښه لوړ ادبي اثار، له ژبپوهانو څخه ژبني شهکارونه او له شاعرانو څخه د شعر عالي ديوانونه په ميراث راپاتې شوي دي.

د علم دا له فيض نه ډك بهير به ترهغې پورې د دنيا په مخ په بشري ټولنه کې روان وي، څو چې انساني ژوند وجود لري. په دغه علمي زيار او کوښښ سره به دعلم مشالونه تل روښانه وي چې خير او ګټه به يې په ټولو علمي برخو او چارو کې انسانانو ته رسېږي....

د شکر او خوشحالۍ ځای دی چې موږ هم ددنيا دنورو ټولنو په شان په پښتني او افغاني ادبي ټولنه کې، د شعر او ادب په ستر ميدان

کې، د سردار خوشحال خان خټك، عبدالرحمان بابا مومند، میرزاخان انصاري، اشرف خان هجري، کاظم خان شیدا، عبدالحمید مومند، ستر فردوسي، لوی حکیم سنايي، فرخي سیستاني، نومیالی جامي، خوږژبی بېدل او نور په سلگونو درانه شاعران او ادیبان لرو چې د جهان د لویو شاعرانو په کتار کې یې نومونه تل لوی او جاوېدان دي او بې له مبالغې د پښتو او فارسي د علم او ادب میدان پرې ځلاند او سرلوړی دی...

په هر حال د دغو لنډو ټکیو په رڼا کې به دا هم ووایو، چې دعلومو اکادمۍ د قانون او لایحې له مخې، څېړنوال مجاور احمد مومند، د څېړنپوه علمي درجې ته د لوړېدو لپاره ((د عبدالحمید مومند او عبدالرحمان بابا مومند په اثارو کې پښتو متلونه او اصطلاحات)) ترعنوان لاندې علمي پروژه اخیستې وه، ما د رهنما استاد په توگه ورسره همکاري کوله.

له ښه مرغه استاد مومند، دغه ادبي اثر چې په زیات تحقیق او زیار یې بشپړ کړی دی. د ده د دغه ادبي زیار په باب، ماته د رحمان بابا دا خوږ او عالي بیت په فکر کې راوگرځېد:

الهي د خـــپل حبیب لـــه بـــرکته!
دا ساده انشاء رنگینه د رحمان کړې

څېړنوال مومند، د خپلو غوره نیکه گانو: رحمان بابا او حمید ماشوگگري د دعا له برکت او فیض څخه، دا درنده ادبي چار په پوره زحمت سره، په کامیابۍ اوښې انشاء سرته رسولې ده. زه بیخي ډاډمن شوم او دا راته جوته شوه چې دی بې له شك څخه په ادبي چارو کې ښه وړتیا او لوی لاس لري. داځکه چې ده د خپلې علمي پروژې شپږ

واړه فصلونه، په ښه ادبي رنګ په پوره تحلیل سره د څېړنې له تشریحي او تحلیلي مېتود سره سم په کره توګه لیکلې دي چې علمي تحقیق یې په نوښت سره ښه را رنګین کړی دی.

ده دا ادبي ښه غنیمت او علمي کار، د پښتو ژبې د خدمت لپاره په سړه سینه او پوره علمي مینه سرته رسولی دی دا هم د یادولو ده چې مومند صاحب، د دغې علمي پروژې په پیل کې، یوه پخه، جامع او عالي سریزه چې د خپل علمي او ادبي کارموخه یې په کې په هر اړخیز ډول راځلولې ده، ډېره خوږه او درنده لیکلې ده. په سریزې پسې یې څېرمه لومړی څپرکی او شالید په ژورې څېړنې سره چې په دغه باب یې پخواني ادبي کارونه، په پوره هڅې سره چې پخوا ترسره شوي د مستندو اثارو له مخې په زیاتې ځیر کتنې سره څېړلي او را پېژندلي دي، چې په تحلیلي ډول یې ښه کتنه اوبشپړه لیکنه پرې کړې ده .

په لومړی څپرکې پسې یې د دغه ادبي غوره اثر نور پنځه فصلونه، دپښتو متلونو د ادبي مرغلرو او اصطلاحاتو او محاورو په راځلولو او لیکلو سره په کره ډول په پوره څېړنه سره یو په بل پسې لیکلي دي چې متلونه او اصطلاحات یې، د عبدالحمید مومند په عالي هنري کلام او آثارو کې په پوره تفسیر او ښې رڼا اچولو سره په خپل مورد کې استعمال کړي دي.

په دې پسې یې د رحمان بابا مومند، د الهي مینې په خوږو اشعاروکې متلونه او اصطلاحات، په ډېر ژور تحقیق سره راڅېړلي دي چې په دې ادبي رغونې  او غزونې سره یې، خپل ادبي نوی اثر په لوړه ادبي کچه ښه پوخ لیکلی دی.

استاد مومند د دغې غوره تحقیقي او ادبي چارې د لاښه بشپړېدو لپاره، د رحمان بابا په لنډ ژوند لیك، د ده د عرفاني شعر د سبك او سبك په ځانګړنو، د ده د سبك د پیروانو. دا شان یې د عبدالحمید مومند په لنډ ژوند لیك، د هغه د نازك خیال په ښکلي شعر او د شعر د سبك په خصوصیاتو او د ده د سبك په پیروانو باندې ښه د رنده او ژوره څېړنه کړې ده چې پښتو ادب ته یې په دغه برخه کې ډېر ادبي موضوعات له نوښت سره نوي را زباد، خوندي او اضافه کړي دي چې د پښتو ادب په آسمان کې به د ځلاندو ستورو په شان تل ځلاند وي....

همدارنګه یې د حمید مومند پر پېژندنه سربېره د هغه پر سبک هم خبرې کړي او د ده د سبک د پیروانو نومونه یې یاد کړي دي.

زه دلې د ټولو فصلونو له یادونې څخه د موضوع د اوږد والي د مخنیوي له امله ډډه کوم او په خوشالۍ سره دا وایم چې د ده دا علمي کار په خپله برخه کې بې ساری او ډېر غوره دی. هرڅوك چې ددغه نوي ادبي ګلستان علمي څېړنیزې پاڼې را واړوي، د څېړنې د اصولو سره سم دا پوره ورجوتېږي چې د دغه تحقیقي اثر شپږ واړه علمي څپرکې په ډېر ښه پیوستون او ترتیب سره اوډل شوي دي، علمي موضوعات یې ټول د تحلیلي او تشریحي مېتود په رڼا کې په پوره رنګ سره په کره ډول کښل شوي. د دغه اثر د لیکنې سرچینې، منابع او اخځلیکونه د کتاب د لیکنې د اصولو سره پوربخ او بیخي اړین دي. دا څېړنیز علمي اثر د پورته ادبي رنګینیو په یادولو سره، دا ارزښتونه هم په خپله محتوی او علمي منځپانګه کې لري:

۱ـ د رحمان بابا په لوړو عرفاني او د عبدالحمید مومند د نازك خیال په اشعارو کې دا یوازینی نوی څېړنیز اثر دی چې په متلونو او

اصطلاحاتو کې په پوره تفصیل لیکل شوی، له دې د مخه داسې یو تحقیقي پوره اثر په دغو موضوعاتو کې چانه دی لیکلی او نه د ادبیاتو په ډګر کې وجود لري.

۲_ د دغه اثر د لیکلو ژبه روانه، عام فهمه او ډېره سلیسه ده چې د هر چا د استفادې او لوستلو وړ ده. په لیکنه کې یې پېچلتیا او تعقید ډېر نه لیدل کېږي.

۳_ دا ادبي اثر د املا او انشاء له مخې ډېر په غور سره لیکل شوی او تر ډېره حده د املا او انشاء خیال پکې ساتل شوی دی.

۴_ دا تحقیقي اثر د څېړنې د تشریحي ادبي میتود په رڼا کې، په ښه رنګین ادبي بیان سره راروغ شوی دی چې د بیان او لوست ژبه یې لکه چې د مخه اشاره وشوه پېچلتیا نه لري او غوټه نه پکې ترسترګو کېږي.

۵_ په دغه اثر کې د لیکنښو خیال په پوره غور او د قت سره ساتل شوی دی.

٦_ داڅېړنیز کتاب د (٦٦) ماخذونو او قلمي یادښتونو په رڼا کې په ډېر زیار سره، په مستند ډول په خوږه ژبه لیکل شوی، ادبي محتوی یې ډېره عالي او جامع ده چې په پښتو ادب کې به تلپاتې خزانه او د ډېرو څېړونکو لپاره به باوري ماخذ وي.

په دې ډول، د دغه علمي کتاب نورې ډېرې علمي ښېګڼې او ارزښتونه دا را ترسترګو کوي چې د اثر زیار ګالونکي استاد او محقق په ښې ژورې علمي اندېښنې، په ستر فکر او ادبي ځیرکتیا خپل کار بشپړ کړی دی او په خپل علمي کار کې بریالی اوپه ادبي څېړنو کې پوره پوره وړتیا لري، ځکه چې د لیکنې او لیکوالۍ زیار یې له دغه علمي اثر

ځخه پوره ترې را ځرګندېږي. له همدې کبله زه د رهنما استاد په توګه دا وایم:

داسې یوه عالي ادبي رڼا او رنګینۍ چې هر اثر په خپله محتوی او منځپانګه کې ولري. د هر ځېړونکي، لوستونکي، ښوونکي او استاد، د منلو او تائید وړ ګڼل کېږي. نو د همدغه علمي او ادبي ارزښت له مخې زه د مومند صاحب دغه ادبي او تحقیقي اثر مثبت ارزیابي کوم. د لیکلو له امله یې ورته مبارکي وایم، دی د دې مستحق بولم چې د دغه علمي زیار په مقابل کې دې په خوشالۍ سره د ځېړنپوه علمي درجه ورکړ شي.

په آخر کې دا سپارښتنه هم کوم چې دا ادبي اثر دې د ژبو او ادبیاتو د مرکز له خوا چاپ او خپور شي چې له علمي مېوې ځخه یې خلك استفاده وکړي، نوبه یې ګټه عامه اوزیاته شي. په پای کې یو وار بیا مومند استاد ته مبارکي ورکوم، د زیاتو علمي بریالیتوبونو هیله یې کوم، په عمر او قلم دې برکت وي. په دې هیله چې د علم او ادب بلې ډېوې او مشالونه تل روښانه وي.

په ډېره علمي او فرهنګي مینه
ځېړنپوه علي محمد منګل

# سریزه

موږ په ټولنیزه توګه په پښتو کې دوه ډوله ادبیات لرو، شفاهي یا نا لیکلي ادبیات چې ویونکي یې معلوم نه وي؛ بل ډول یې لیکلي او یا تحریري ادبیات دي چې ویونکي یې معلوم وي، دا دواړه ډوله ادبیات په خپل منځ کې پر منثورو او منظومو برخو سره وېشل کېږي. کله چې څوك په ادبیاتو کې څېړنه او تحقیق کوي، په دغه څېړنیز ادبی چار او هڅه کې د نورو فولکلوري ژانرونو ترڅنګ د متل او اصطلاح له ادبي مرغلرو سره هم مخامخ کېږي چې په تحریري (لیکني) او شفاهي ادب کې په ډېر ښه ډول سره څېړل شوی دی.

متل او اصطلاح د نړۍ په بیلا بیلو ولسونو کې دود او د دوی له ورځني ژوند سره کلك تړاو لري، همدارنګه د نړۍ د ډېرو شاعرانو په اشعارو کې په پریمانۍ سره لیدل کېږي چې هر یو په خپل خپل ځای کارول کېږي او د استعمال موارد یې څرګند دي.

متلونه هغه نا پېلیې مرغلرې دي چې ډېر ځله دیوې خبرې یا مدعا دپخلي لپاره دخلکو ترمنځ کارول کېږي، یایې شاعران کله دمثال

په ډول او کله هم دخپلې ادعا د ثبوت لپاره په خپلو شعرونو کې کاروي.

ترڅو چې د دنیا په مخ باندې انساني ژوند وجود لري او د علم او پوهې علمي او ادبي څراغونه روښانه وي نو به د نورو ادبي موضوعاتو په شان په ادبیاتو او ادبي څېړنو کې د متل او اصطلاح ادبي ځلا وې له خپلو ټولو ارزښتونو سره موجودې وي او څېړل کېږي به. له همدې امله په ادبي موسسو او علمي مرکزونو کې وینو چې په زیاته کچه متلونه او اصطلاحات د پوهانو او ادیبانو له خوا څېړل کېږي، د جهان په ټولو کوچنیو او لویو ژبو کې (هغه ژبې چې ډېر ویونکي لري او هغه چې لږ ویونکي لري) متلونه او اصطلاحات شته او تر ډېرې اندازې ترې د یو مطلب او مقصد لپاره کار اخستل کېږي، په دغه اړه ځانګړي آثار او مجموعې هم لیکل شوي او لابه لیکل کېږي او د چاپ په موخه به په ډېر شوق سره چاپخونو او مطبعو ته راوړل کېږي، ترڅو چې ګټه او استفاده یې عامه شي.

په نړۍ کې د بېلا بېلو ژبو ویونکي قومونه او قبایل ژوند کوي، د دوی کلتور که څه هم له یوه هېواده تر بله او یا له یوې سیمې تر بلې سره بی توپیره نه دي، خو موږ د نړۍ له پراختیا سره سره بیا هم په ځینو کلتوري او فولکلوري پدیدو کې نږدېوالی او ورته والی لیدلای شو، له دې ډلې څخه د بېلګې په توګه متلونه او اصطلاح ګانې یادولای شو چې د دنیا د بېلو قومونو او ولسونو متلونه او اصطلاح ګانې یو له

بله سره څه ورته والی او نږدېوالی هم لري او د هرې ژبې څېړونکي د خپلې پلټنې او څېړنې د پایلې او نتیجې په لړ کې په ډاګه ویلی شي چې زما د مورنۍ ژبې لمن په متلونو او اصطلاح ګانو سره ډېره غني، زرغونه او بډایه ده، د دغې جملې لنډه معنا داده چې په دنیا کې به داسې ژبه نه وي چې په هغې کې د متلونو او اصطلاح ګانو پانګه وجود ونه لري. په هره ژبه کې چې خلك پرې خبرې او افهام تفهیم کوي، د نورو ادبي موضوګانو ترڅنګ د متل او اصطلاح لویه خزانه هم ترسترګو کېږي چې په ورځني ژوند کې یې د ژبې ویونکي په بېلو بېلو مواردو او کردارونو کې استعمالوي او کارترې اخلي. عام ولس په ورځنیو کارونو او وینا کې یو دبل لپاره خاص متلونه او ځانګړې خوږې اصطلاح ګانې د پند او عبرت په ډول وايي چې په ویلو سره یې خپلو نیمګړتیاوو ته ځیر کېږي.

د دغو ټکو له مخې ویلی شو چې په پښتو کې هم زموږ ډېرو شاعرانو په خپلو شعري دېوانونو کې په سلګونو متلونه او اصطلاګانې چې د خلکو په خولو کې جاري دي او په ورځني ژوند کې یې یو له بله د یو مطلب لپاره وايي په ځانګړي ادبي ادا سره د ارسال المثل په بڼه راوړي دي، دا ادبي لړۍ له پیړیو راهیسې زموږ په لیکني ادب کې ترنن پورې را رسېدلې ده، څو ژوند د دنیا په مخ وجود ولري او پښتانه ژوندي وي، د متل او اصطلاح مرغلرې به هم پکې خوله په خوله پالل کېږي، څېړنې او تحقیق به پرې روان وي د شاعرانو په اشعار کې به څېړونکي

په دغه باب پلټنې، تحقيق او ليکنې ترسره کوي، دا شان به په متلونو او اصطلاحاتو کې ځانګړې نوي او تازه آثار ليکل کېږي او چاپېږي به، په همدې موخه له ښه مرغه د افغانستان د اسلامي جمهوريت د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز د علمي او ادبي موخو او اهدافو سره سم ما د ستر صوفي او عرفاني شاعر عبدالرحمان مومند بابا په دېوان او د پښتو نازکخياله د لوړ تخيل خاوند شاعر عبدالحميد مومند په دېوان (درمرجان)، نيرنګ عشق، شاه وګدا، شرعة الاسلام په آثارو کې د متل او اصطلاح او د هغو د کارولو په اړه خپله علمی- څېړنيزه پروژه له تشريحي او تحليلي ميتود څخه په استفاده د څېړنپوه علی محمد منګل تر لارښوونې لاندې سرته رسولې ده.

زما دغه ترلاس لاندې پروژه سريزه (٦) څپرکي پايله، وړانديزونه او د ماخذونو فهرست لري، لومړی څپرکی د موضوع شاليد ته ځانګړی شوی، په دوهم څپرکي کې د متل او اصطلاح د بېلا بېلو اړخونو په باب خبرې شوي او د بحث په ترڅ کې د دواړو يو له بله توپير هم په ګوته شوی دی. درېيم څپرکی د حميد موند ژوند ليك ته ځانګړی شوی دی، په څلورم څپرکي کې د رحمان بابا د ژوند او سبك په باب بحث شوی دی. په پنځم څپرکي کې د متلونو ټوليز، تاريخي او ژبنی ارزښت څېړل شوی دی. په شپږم يا وروستي څپرکي کې په شعرونو کې د متلونو د استعمال د اړتيا په باب بحثونه لري.

دا اثر په پای کې پایله، وړپسې وړاندیزونه او د هغو (۷۱) مأخذونو فهرست راغلی چې ما په دې اثر کې ترې په یوه نه یوه بڼه استفاده کړې ده. مادخپلې څېړنې په بهیر کې درحمان بابا دېوان له الف ردیف نه تر (ی) پورې مخ په مخ، کرښه په کرښه او بالاخره ټکي په ټکي په پوره غور سره کتلی دی، په لسګونو او شلګونو متلونه او اصطلاحات مې ترې را ایستلي او تحلیل کړي دي. همدا ډول مې د متل او اصطلاح د پېژندنې د پوره څرګندتیا لپاره د کورنیو او بهرنیو پوهانو له علمي څېړنو څخه استفاده کړې ده، په دغه برخه کې لارښود استاد هم راته لازمې یادونې او لارښوونې کړې، په دې ډول سره مې دغه علمي، تحقیقي پروژه د خپل توان په اندازه په مشرح ډول سره بشپړه کړې ده.

د یادولو وړ ده چې تر دې د مخه د رحمان بابا په اشعارو کې د متل او اصطلاح په برخه کې په دې ډول ځانګړی څېړنیز کار چانه دی کړی، همدا شان د عبدالحمید مومند په آثارو کې تراوسه د متل او اصطلاح په څرګندولو او څېړلو باندې په دغه کچه اکاډمیکه او علمي څېړنه نه ده شوې که څه هم لکه د مخه مې چې وویل د دې اثر په څېړنه کې ډېره هڅه کړې او له هیڅ ډول زیار نه مې ډډه نه ده کړې، زما په اند په دې لاره کې باید لا نور کارونه هم ترسره شي او د دی دوو نومیالیو شاعرانو دېوانونه او د دوی د ژوند حالات له بېلا بېلو زاوییو څخه وڅېړل شي.

زه هيله لرم چې راتلونکی نسل په تېره بيا ځوانان به په دې لاره کې ګړندي ګامونه پورته کړي، ما له خپل توان سره سم دغه اثر د ټاکلو مفرداتو په رڼا کې بشپړ کړی دی، هيله من يم چې د ادب مينه والو او نورو لوستونکو د پاملرنې وړ وګرځي.

زه په پای کې له خپل لارښود استاد څېړنپوه علی محمد منګل څخه ډېره مننه کوم چې د دې پروژې په ليکلو کې يې له ماڅخه هيڅ ډول زيار نه دی سپمولی، د مأخذونو په ښودلو سربيره يې ډېر شفاهي يادښتونه هم راسپارلي او زما دغه اثر يې په وخت کتلی او لازمې لارښوونې راته کړې دي، زه هيڅکله هم دا دعوه نه لرم چې دغه اثر به له هره حيثه بشپړ وي خو دا په زغرده وايم چې ما يې په بشړولو کې له هيڅ ډول هاند او هڅو څخه ډډه نه ده کړې او موضوعات مې په تحليلي بڼه څېړلي او د دې څېړنې په پايله کې مې دغه رساله کښلې ده.